**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته**

**په افغانستان کې د عمومي منشي د ځانګړې استازې آغلې دیبورا لاینز وینا**

**نیویارک، ۱۷ نومبر ۲۰۲۱**

[څرنګه چې وړاندې شوې]

*** * ***

ښاغلی رئیس،

له دغه فرصت څخه ډېره مننه د شورا له غړو هم مننه چې ما ته يې په دغه خورا مهم وخت د افغانستان په اړه د خبرو کولو فرصت راکړ.

له تېرو شلو کلونو راهیسې په دې خونه کې د افغانستان د اړتیاوو په اړه مباحثې ترسره شوي او په اړه یې له ځانګړې خواخوږۍ او سخاوت سره اقدام ترسره شوی. خو د طالبانو له خوا د هیواد له نیول کېدو سره، افغان وګړي داسې احساس کوي چې له پامه غورځول شوي، له یاده اېستل شوي او په واقعیت کې د داسې شرایطو له خوا جزایي شوي کوم چې د هغوی تېروتنه نه ګڼل کېږي. دا چې اوس افغان وګړي له پامه وغورځول شي دا به یوه تاریخي تېروتنه وي – یوه داسې تېروتنه چې پخوا هم ترسره شوې چې تراژیکې پایلې یې له ځان سره درلودې.

غواړم په تیرو دریو میاشتو کې له طالبانو سره په کابل او ولایتونو کې زموږ د تعامل پر بنسټ د هغوی اوسن اداري له عمومي ارزونې سره پیل وکړم.

اجازه راکړئ په ډاګه کړم چې زموږ رسمي تعاملات په عمومي ډول ګټور او رغنده وو. اوسنیو چارواکو موږ ته ډاډ راکړی چې هغوی په هیواد کې د ملګرو ملتونو شتون غواړي، او هغوی زموږ مرستو ته ارزښت ورکوي. هغوی د نړیوالې رسمیت پېژندنې او پر هغې بې باورۍ د برلاسه کېدو په لټه کې دي چې د دوی په باور د دوی او نړیوالې ټولنې ترمنځ شتون لري. د حکومتولۍ په برخه کې، دوی له ګمرکاتو د عوایدو راغونډول پیل کړي او ځینې یې د حادو موضوعاتو لکه په قسمي ډول د ملکي کارمندانو د معاشاتو تادیې په موخه کارول شوي.

دغه راز، طالبانو په ټول هیواد کې د ملګرو ملتونو حضور ته امنیت برابر کړی او د ښځینه بشري کارمندانو په ګډون یې د پراخ بشري لاس رسي لپاره زمینه برابره کړې. دغه بدل شوي امنیتي وضعیت زموږ لپاره د دې فرصت برابر کړ چې د هیواد له هغو برخو لېدنه وکړو کومې چې موږ په تېرو پنځلسو کلونو کې نه وې لېدلې، او حیاتي مرستې برابرې کړو.

او ښاغلی رئیس، ډاډه اوسئ چې موږ له طالبانو سره د ستونزمنو موضوعاتو له راپورته کولو ډډه نه ده کړې، په ځانګړي ډول د توکمیزو حقونو، د ښځو حقونو، د نجونو د زده کړو، ټول شمولیت، او د ځورونې او د قضا له احکامو پرته وژنو د راپورونو په اړه چې موږ یې په اړه اوریدلي. په عام ډول، دوي دغه اندېښنې درک کولې او زیاتره یې پر دې اعتراف کاوه چې دوي تېروتنه کړې او هغوی ته د رسیدګۍ هڅه کوي. له دې سره سره، دوي همدارنګه په ډاګه کړه چې د اوس لپاره د هغو جوړجاړیو په وړاندې محدودیتونه شتون لري، چې دوي یې د مشخصو موضوعاتو په اړه د ترسره کولو اراده لري.

د نجونو د زده کړو په اړه اوسنیو چارواکو په ډاګه کړه چې هغوی پر یوې ملي پالیسي کار کوي څو د نجونو د زده کړو حق په ټول هیواد کې اعمال شي، خو څرګنده یې کړه چې هغوی نور وخت ته اړتیا لري څو دغه پالیسي او د هغې تطبیق روښانه کړي.

په داسې حال کې چې اوسنيو چارواکو په ابتدايي ډول د اسلامي شريعت په د ننه کې د زده کړو په ګډون د ښځو د حقونو د ساتنې ډاډ ورکړی، خو د افغان ښځو او نجونو پر بنسټيزو حقونو او آزاديو يو عمومي محدوديت شتون لري. دغه محدوديت د هغوي د کار کولو له محدويت نيولې، د ښځو لپاره د پربکړه نيونې د فرصتونو د نشتون او په لوړه کچه د ملکي خدمت څخه تر بې برخيتوب پورې رسيږي. د يادونې وړ ده چې دغه پاليسي ګانې په هيواد کې په مختلف ډول تطبيق شوي، چې ځينې ولايتونه د نورو په پرتله د پام وړ لږ محدوديت درلودونکي دي.

موږ د يوې لا زياتې ټول ګډونه ادارې لپاره خپل غوښتنه جاري ساتلې په کومه کې چې دولتي ادارې د افغانستان پراخ تنوع منعکسوي. خو له دې سره سره، موږ د دغې موضوع په برخه کې د محدود پرمختګ شاهدان يو. د سرپرستې کابينې تشکيل، څرنګه چې د طالبانو له خوا هم سرپرسته ګڼل کيږي، د دغې کابينې جوړښت په بشپړ ډول نارينه، په اساسي ډول پښتانه، او نږدې ټول طالبان دي. په دوارو مرکزي او ولايتي کچو وروستۍ ګمارنې د حکومتولۍ او ټول شموليت د ترويجونې پر ځای د جنګياليو د مکافاتو په پار طرح شوې بريښي.

ښاغلی رئيس او د شورا غړو، همدارنګه ډاډه اوسئ چې موږ په افغان ټولنه کې له نورو سکتورونو لکه رسنيو، پخوانيو دولتي چارواکو، مدني ټولنې، کارپوهانو، او هو، يقينا له ښځو ګروپونو سره نږدې اړيکې ساتلې. افغانان په عام ډول د طالبانو او اوسنيو چارواکو د راتلونکو ارادو په اړه اندېښمن دي. دغه اندېښنې هغه هوساينه چې په جګړه کې د پام وړ کموالي له امله رامنځ ته شوې، کموي. دوي، افغان وګړي، په يقين سره د فلج شوي اقتصاد، د پيسو د راايستلو نه وړتيا، او د دې ويرې په اړه سخت اندېښمن دي چې د ژمي او راتلونکو مياشتو پر مهال به د خپلو ځانونو ته د روزي رسولو وړ نه وي.

همدارنګه پر لاريونونو او د بيان د آزادۍ پر هڅو محدوديتونو شتون درلود. رسنيز چينلونه لا اوس هم ځينې وختونه د مالي دلايلو او ځينې وختونه د اوسنيو چارواکو له خوا د هغوي د نشراتو او خپرونو پر محتوياتو د روانو محدوديتونه له امله تړل کيږي. د اجباري تخليې له راپورونو سره چې د لږکيو ټولنې يې په نښه کړې، روان توکميز کړکيچ او تاوتريخوالي د لږکيو د حقونو په اړه اندېښنې را ولاړې کړي.

ښاغلی رئيس،

اجازه راکړئ ووايم په داسې حال کې چې جګړه تر ډيره پای ته رسېدلې او عمومي امنيتي وضعيت په واقعيت کې ښه شوی، موږ په منظم ډول د هغو پېښو باوري راپورونه ترلاسه کوو چې د افغانانو د ژوندانه او د جسمي سلامتيا حق اغيزمنوي. په دې کې د کورونو تلاشۍ او د پخواني حکومت د امنيتي کارمندانو او چارواکو د قضا له احکامو پرته وژنې شاملې دي. قضايي سيستم په خپله په نا متوازن ډول تطبيق شوی، په هيواد کې قاضيان، ملکي مامورين، پوليسي پرسونل او حقوقي او مالي سرچينې يو تر بله توپير کوي. په قضايي سکتور کې هيڅ ښځه کار نه کوي او دا لا تر اوسه څرګنده نه ده چې اوسني چارواکي څرنګه عدالت ته د ښځو لاس رسی ډاډمنوي.

بل ستر منفي تحول د طالبانو هغه ناتواني ده چې د عراق او شام د اسلامي دولت د خراسان ولايت ډلې د پراخېدو مخه ونيسي. يو وخت چې په کابل او کم شمير ولايتونو پورې محدود وه، اوس داسې بريښي چې نومورې ډله نږدې په ټولو ولايتونو کې شتون لري او په زياتېدونکي ډول فعاله ده. د بريدونو شمير د تير کال په پرتله روان کال د پام وړ لوړ شوی. په ۲۰۲۰ کې - ۶۰ ، تر دې دمه په روان کال کې، ۳۳۴ بريدونه نومورې ډلې ته منسوب شوی يا په واقعيت کې، د نومورې ډلې له خوا يې مسووليت پر غاړه اخيستل شوی. د عراق او شام د اسلامي دولت د خراسان ولايت ډلې د شيعه مذهبه لږکيو د ټولنو په نښه کول جاري ساتلي. طالبان ټينګار کوي چې د نومورې ډلې پر ضد سخت کمپاين ترسره کوي، خو دغه کمپاين له دې اړخه د اندېښنې وړ

دی، څرنګه چې ښکاري چې هغه تر ډېره بریده د نوموړې ډلې د شکمنو غړو د قضا له احکامو پرته پر توقیف او وژنو متکي دی. دا هغه برخه ده چې د نړیوالې ټولنې د لا زیاتې پاملرنې د جذبولو وړ ګڼل کېږي.

زما عمومي برداشت دا دی چې طالبان ربښتیني هڅې ترسره کوي څو خپل ځان د یوه حکومت په څېر وړاندې کړي. دغه هڅې تر یوه حده د منابعو او ظرفیت د نشتون او همدارنګه د سیاسي ایډیالوژۍ له امله له خنډ سره مخ دي، کومه چې د زیات شمېر اړخونو له پلوه په دغې خونه کې د موجوده حکومتولۍ له معاصرو نړیوالو نورمونو سره په ټکر کې ده. طالبانو لا تر اوسه د افغان وګړو ترمنځ بشپړ باور نه دی رامنځ ته کړی یا یې هغوي د حکومتولۍ پر خپل ظرفیت نه دي قانع کړي. حرکت همدارنګه د ځینو جدي داخلي تقسیماتو د مدیریت کولو هلې ځلې کوي. له دې سره سره، بالاخره طالبان باید پرېکړه وکړي چې د متنوع افغان نفوس له اړتیاوو او حقونو سره سم حکومت وکړي، یا دا چې د تنګې ایډیالوژۍ پر بنسټ آن تر هغې تنګ د قومیت پر بنسټ واکمني وکړي.

ښاغلی رئیس،

له کوم وخت راهیسې چې طالبانو واک ترلاسه کړی، د نړیوالې ټولنې غړو له هغو افغانانو سره پر مرستې تمرکز کړی څوک چې غواړي هیواد پرېږدي. د طالبانو تر واکمنۍ لاندې د ژوند پراخو وېرو هغه زړه برېښونکې صحنې راپارولې چې هر څوک یې په اګست میاشت کې د طالبانو له خوا د هیواد تر نیول کېدو وروسته شاهد و او په زرګونو افغانانو له هیواد څخه د وتلو لار غوره کړه. خو زموږ پاملرنه باید اوس هغه ستر شمېر افغانانو ته واوړي څوک چې په هیواد کې پاتې دي خو په لنډ مهال کې له ډاروونکې راتلونکې سره مخ دي.

موږ د مخنیوي وړ بشري غمیزې پر څنډه ولاړ یو. پر افغانستان نافذ مالي بندیزونو بانکي سیستم فلج کړی، چې د اقتصاد پر هره برخه یې اغېز ښندلی. د اټکل له مخې د عاید اوسط ۴۰ سلنه راپرېوتی. نغدي پیسې په سخت ډول محدودې دي. سوداګر کریډیټ لیکونه نه شي ترلاسه کولی. هغو خلکو چې کار یې کړی او د کلونو لپاره یې خپلې پیسې سپما کړی خپلو عوایدو ته لاس رسی نه لري. ملکي مامورینو ته په بشپړ ډول معاشات نه تادیه کېږي، که چېرې وي. روغتونونه له درملو خالي کېږي او ناروغان لرې کېږي. د توکو له کمښت سره بیې لوړې شوي، چې پر تر ټولو بې وزلو او تر ټولو پر زیانمنېدونکو افغانانو جزا ورکوونکې مالیه وضع کوي. د ژمي په را رسېدو سره د سونګ توکو او خوړو بیې لوړې شوي. د په بشپړ ډول پیچلي ټولنیز او اقتصادي سیستم یوه برخه د شتمنیو د کنګل کېدو، د غیر بشري مرستو د ځنډېدو او بندیزونو له امله مخ په ټپل کېدو ده.

د ملګرو ملتونو له وروستي راپور سره سم، نږدې په هرو دوه افغانانو کې یو یې د خوړو د خوندیتوب له ناورین یا تر بېړنۍ کچې پورې مخ دی. د شا و خوا ۳۸ میلیوني نفوس په هرو دوو کې یو هغه یې. څرنګه چې ژمي ته د داخلېدو په حال کې یو او کورنۍ د خوړو خپلې خورا محدودې زېرمې مصرفوي، موږ وېره لرو او وړاندوینه کوو چې تر ۲۳ میلیونه افغانانو پورې به د خوړو د خوندیتوب په ناورین یا د بېړني وضعیت په کچو کې وي.

د سترو خنډونو په مقابل کې خو د زیات شمېر مرستندویانو د پام وړ سخاوت په ملاتړ، موږ د پام وړ بشري مرستې رسوو. موږ، یوناما او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو زیات شمېر فعالې ادارې د هغو مرستندویانو منندوی یو چا چې نږدې د سپتمبر میاشتې ناڅاپي غوښتنه تمویل کړې. د روان کال تر دریيمې ربع پورې، د ملګرو ملتونو د بشري مرستو ادارو او د هغوي همکارو سازمانونو په ټول هیواد کې نږدې لس نیم میلیونه خلکو ته له مرستو سره رسیدنه کړې. په دې مرستو کې د خوړو مرستې، د کرنې او معیشت مرستې، د ماشومانو د سختې خوارځواکۍ درملنه، طبي سلا مشورې او د وچکالۍ له خوا په زرګونو خلکو ته د ټرک لارې د اوبو رسول شامل دي. څرنګه چې زه ډاډه یم تاسو ټول پوهیږئ چې افغانستان په څلورو کلونو کې روان کال د دویم ځل لپاره له وچکالۍ سره مخ شو، او بیا اټکل کېږي چې په راتلونکو کلونو کې به بیا له بلې وچکالۍ سره مخ شي.

ملاتړ پر دې ځای پای ته نه رسېږي. زما کليدي پيغام دا دی چې بشري مرسته بسنه نه کوي. نړيواله ټولنه بايد په بېړني ډول يوه داسې چاره پيدا کړي چې په دولتي روغتونونو کې د روغتيايي کارمندانو، د خوړو د خونديتوب په پروګرامونو کې د کارکوونکو او هو بالاخره د ښوونکو لپاره مالي ملاتړ برابر کړي، د دې په پام کې نيولو سره چې د نجونو زده کړې په يقيني ډول رامنځ ته شوي. دغه کار يوازې د هغو ادارو او وړاندې کوونکو ميکانيزمونو له لارې ترسره کيدای شي کوم چې په تيرو دوه لسيزو کې د دغه هدف په پار رامنځ ته شوي، البته د زيات شمير هغو هيوادونو په مرسته کوم چې دلته حاضر دي. غواړم تاسو ډاډمن کړم چې د ملګرو ملتونو له خوا به هره هڅه ترسره شي څو ډاډ تر لاسه شي چې د رسوونکو دغو ميکانيزمونو له لارې برابرې شوې بسپنې طالبانو ته يا د هغوي له لوري بل لوري ته نه محول کېږي. موږ د روغتيا په سکتور کې د معاشاتو د تادېې په پار يو خپلواک مرکز جوړ کړی خو پراخېدو ته اړتيا لري او د اړينو خدمتونو په نورو برخو کې رامنځ ته کېدو ته اړتيا لري. موږ د دغو موضوعاتو په اړه له ډونرانو سره شديد ډيالوګ ته اړتيا لرو.

له ژمي سره د مخ کېدو له تر ټولو زياتو زيانمنېدونکو افغانانو سره د مرستې په پار بايد پر راتلونکو دريو يا څلورو مياشتو تمرکز وکړو، او موږ بايد دغه کار پرته له دې چې هغه ادارې او ميکانيزمونه تضعيف کړو کوم چې پاتې نور خلک له ستر زيانمنتوب سره له مخ کېدو ژغوري، ترسره کړو.

ښاغلی رئيس، يو بل هېښوونکی ياداښت.

زه بايد خبر ورکړم چې د اوسني وضعيت واقعيت د افراطيت سخت خطر ګواښي. د رسمي اقتصاد دوامدار خرابېدل د غير رسمي اقتصاد لکه نا قانونه نشه يي توکو د وسلو جرياناتو او انساني قاچاق لپاره هڅونه برابروي. د بانکي سکتور روان مشلوليت به د پيسو د احتساب نه وړ او نا منظم تبادلو يو داسې سيستم رامنځ ته کړي کوم چې به يوازې د تروريزم  قاچاق او د نشه يي توکو د قاچاق په تسهيلولو کې مرسته وکړي.

دغه لاملونه به لومړی افغانستان اغيزمن کړي خو بيا وروسته سيمه ککړوي. سيمه ييزو هيوادونو د ملاتړ مختلف مهم ډولونه رامنځ ته کړي او ادامه يې ورکړې. دواړه د مسکو فارميټ د ناستو او "ترويکا پلس" په نامه نورو هغو چې چين، پاکستان، روسيه او متحده ايالات په کې شامل دي، دوام درلود. همدارنګه خوښه يم د دې خبر ورکړم چې په اسلام اباد او تهران کې دوه ناستې د افغانستان د ګاونډيو د بهرنيو د وزيرانو د کچې په نوې بڼه ترسره شوې – او زه په دې باور يم چې بله هغه به يې په بيجينګ ترسره شي. هند هم په دې وروستيو کې د ملي امنيت د سلاکار په کچه د څينو سيمه ييزو هيوادونو د يوه کنفرانس کوربه و. دا ټول د دې ښکارندوی دي چې سيمه ييز هيوادونه په دغه خورا مهم وخت کې څومره په پياوړي ډول ګامونه پورته کوي.

دغه ټول فارميټونه په سم ډول په افغانستان کې د ټيکاو پر اړتيا او همدارنګه د نشه يي توکو له ناقانونه قاچاق او نړيوال تروريزم سره د مبارزې پر بيړنۍ غوښتنه ټينګار کوي. سيمه ييزو هيوادونو د پاتې نړيوالې ټولنې په څير په افغانستان کې د ټول ګډونه حکومت او همدارنګه چې نجونو د زده کړو، کار ته د ښځو د ستنېدو، بشري حقونو او د لږکيو حقونو ته د درناوي غوښتنه کړې. د دغو موضوعاتو په اړه پياوړې سيمه ييزه او نړيواله اجماع شتون لري. نړۍ د دغو موضوعاتو په اړه له طالبانو سره په يوه خوله خبرې کوي.

ښاغلی رئيس،

د افغانستان ستونزه په سيمې پورې محدود نه ده. د طالبانو لپاره د ټيکاو او د راتلونکي نړيوال ملاتړ د غښتلي کولو غوره لار د انزوا مخنيوی دی کوم چې په واک کې د هغوي د پخوانۍ تجربې خاصيت درلودونکی دی. دا کار د طالبانو د اوسنيو چارواکو، نورو افغان شريکباڼو او په پراخه کچه د سيمې او نړيوالې ټولنې ترمنځ د پايښت لرونکي او د پالیسۍ ساختاري ډيالوګ ته اړتيا لري. يوناما چمتو ده چې په دغه مهم ډيالوګ کې چې زموږ په راتلونکي ماموريت پورې متکي دی، يو حياتي نقش ولوبوي. موخه بايد دا وي چې يوه تدريجي خو متمرکزه تګلار جوړه شي کومه چې د افغانستان او په پراخه کچه د نړۍ ترمنځ د رغنده اړيکو د

رامنځ ته کولو لپاره واقعي ګامونه په ډاګه کوي، چیرې چې په دغو ټولو هڅو کې د افغان وګړو سلامتیا او حقونه مرکزي هدف ګڼل کیږي.

په صراحت سره، دا یوازینۍ هغه لار ده څو په زیاته کچه د تیرو ۲۰ کلونو د پرمختګ له لاسه ورکولو مخه ونیول شي. دغه ډول یوه لار نقشه، دغه ډول یوه تګلار او دوامدار تعامل به د نړیوالو لومړیتوبونو د پراخو ډولونو په اړه د رغنده تبادلو لپاره لار هواره کړي، د افغانستان د خلکو په وړاندې د اوسنیو چارواکو د مسوولیتونو په ګډون چې د زیات شمیر هغو تړونونو مکلفیتونه تطبیق کړي چې د دغې خونې له خوا یې ملاتړ شوی او افغانستان یې غړي دولت ګڼل کیږي.

ښاغلي رئیس او د شورا غړو،

زه پوهیږم چې هیڅوک دا نشي تضمینولی چې دغه ټول تدابیر به د افغان وګړو لپاره یو غوره راتلونکی ډاډمن کړي، خو موږ دا تضمینولی شو چې د دغو متمرکزو هڅو له ترسره کولو پرته د هغوی ژوند به په تر ټولو یقیني ډول لا پسې ناوړه شي. اوس د دې وخت نه دی چې موږ افغان وګړو ته شا کړو. که چېرې دغه کار وکړو، زموږ ټولیزه ناکامي او دغه راز د میلینونو افغانانو درد به د لسیزو لپاره انګازې وکړي.

له وخته مو مننه

* * *